# په اسلامي بانکدارۍ کې د اعتباري خطر مديريت

پوهنيار توريالی سنګين، شيخ زايد پوهنتون، اقتصادپوهنځی، اداره تجارت څانګه
برېښناليک: tooryalaisangeen2019@gmail.com

**لنډيز**

ا سلامي بانکداري د ا سلامي شريعت او ا صولو په چوکاټ کې د مالي خدماتو له ارايې او وړاندې کولو څخه عبارت ده. وروستۍ څېړنې او د اسلامي هېوادونو تجربې ښيي چې اسلامي بانکونه د هېوادونو په اقتصادي پراختيا کې د زياتو لاسته راوړنو شاهد دي. اسلامي بانکداري نسبت عنعنوي بانکدارۍ ته د مالي منابعو په جذب او مصرف کې خاصې ځانګړتياوې لري، په دغه ډول بانکدارۍ کې مهم ا صل د ګټې او ضرر په حساب کې شريکېدل او همدارنګه له سودي معاملاتو څخه ځان ساتل تشکيلوي. د خطراتو مديريت د مالي او بانکي سيستم د مهمو او اساسي برخو څخه دی، په دې دليل اسلامي بانکداري د هغې د طبعيت او ماهيت په نظر کې نيولو سره د ډول ډول خطرونو سره مخ ده چې د هغې پېژندنه او مديريت د بانکي نظام او سيستم د عملکرد او کړنې په پراختيا کې مهم او اساسي رول لوبوي. په دې څېړنه کې نهايي هڅه شوې تر څو د اسلامي بانکدارۍ مربوط اعتباري خطر مطالعه او همدارنګه د هغې د پوښښ او جبران طريقې بيان شوي دي، د دې سره سره د اسلامي بانکدارۍ پېژندنه ، د خطر معرفي، د خطر مديريت، د خطر د مديريت اهداف، د خطر ستراتيژي تشريح شوي دي.

**کليدي ټکي**: اسلامی بانکداري، اعتباري خطر، د خطر ستراتيژي، د خطر مديريت، د خطر د مديريت اهداف

**سريزه**

**بسم الله الرحمن الرحيم، الحمد لله رب العلمين والصلاة والسلام على سيد المرسلين و على اله و اصحابه اجمعين.**

اسلامي مالي صنعت په تېزۍ او سرعت سره د رشد او نمو په حال کې دی او همدارنګه اسلامي مالي ابزار په بازارونو کې د پراخېدو او وسعت په حال کې قرار لري او ډېر نهادونه او مالي سازمانونه ميلان او علاقه لري چې مشتريانو ته اسلامي مالي خدمات وړاندې کړي .د نوې تکنالوژۍ او نړيوال کېدو د پديدو په منځته راتګ سره ټول نهادونه او سازمانونه هڅه کوي چې ځان د هغه سره برابر او وصل کړي او د نړيوال کېدلو څخه ګټه پورته کړي، چې په دغه عصر کې اسلامي

بانکداري په اسلامي هېوادونو کې د بانکدارۍ د یوه خاص صنعت په ډول مطرح شوه چې د عرفي او عنعنوي بانکدارۍ سره توپیر لري. اسلامي بانکداري د سهمدارانو د دواړه ډولو (بانک او مشتري) ګټې په نظر کې نیسي او د غیر منصفانه مصارفو (ربا) څخه ځان لرې ساتي او اکثره هغه ډول ابزار لکه مضاربت، مشارکت او داسې نور استفاده کوي چې په عنعنوي بانکداري کې شتون نه لري.

په اسلامي مالي تأمین او سرمایه ګذاري پورې تړلیو خطرونو، اسلامي مالي نهادونه د ډول ډول خطرونو سره مخ کړي دي. د اسلامي مالي نظره د دغې خطرونو مطرح کول هغه اړتیا ده چې اکثره اسلامي مالي صنعت په هغه باندې په و سیع ډول د زیاتو څېړنو، مطالعو، مقالو او کنفرانسونو لپاره زمینه مساعده کړېده.

د اسلامي بانکدارۍ په برخه کې عمومي برداشت دادی چې دګټې (سود) د نشتون له امله زیات امنیت او مفیدیت لري.

د خطراتو د مدیریت کارایي او مؤثریت د مالي سازمان او نهاد په پایښت او موفقیت باندې مستقیم اغېز لرلای شي. د خطراتو مدیریت د سهمدارانو او شریکانو د بازده په کموالي او زیاتوالي باندې اغېز لری ،په ټوله کې د مالي سیستم ثبات او پایدا ري د خطراتو په مدیریت پورې تړلې ده. د مالي فعالیتونو پیچلتوب او همپالنه د مختلفو خطرونو د رامنځته کېدو لامل ګرځي، خطرونه په عمومی ډول په اسلامي بانکدارۍ کې د خاصو قراردادونو د ساختاري او ساختماي جوړښتونو له امله را منځته کېږي. په ګټه او تاوان کې شراکت د بعضو اسلامي مالي قراردادونو ماهیت تشکیل وي چې د وخت په تېریدو د طرفینو د روابطو د تغییر لامل کیدای شي او دغه مسئله مالي نهادونه د خطراتو سره مخ کولای شي.

## د څېړنې موخې

۱. د اسلامي بانکدارۍ پېژندنه
۲. په اسلامي بانکدارۍ کې د اعتباري خطر پېژندل
۳. په اسلامي بانکدارۍ کې د اعتباري خطرونو مخنیوي اودمدیریت لارې چارې وړاندې کول.

## د څېړنې مېتودولوژي

په نوموړې څېړنه کې د کیفي او توصیفي مېتودونو څخه استفاده شوې ده او دغه څېړنه دوهمي معلوماتو ته اړتیا لري چې د غه دوهمي معلومات د مختلفو معتبرو داخلي او خارجي منابعو، د انټرنیټي سایتونو او علمي مقالو څخه ګټه اخیستل شوې ده.

**د اسلامي بانک پېژندنه**

اســلامي بانک هغه ســوداګریزه، مالي اداره ده چې د اســلامي شریعت په چوکاټ کې له خلکو شتمنۍ را ټولوي او د ودې او ټولنیز تکافل په موخه يې په کار اچوي.

په اسلامي بانکوالۍ کې درې ټکي مهم دي:

الف: دا سلامي بانکونو ټولې کړنې باید د (ا سلامي شریعت) په چوکاټ کې وي، له مشتریانو څخه د پیســو راټولونه، تمویل یا کوم بل تجارت چې بانک يې ترسره کوي، ټول باید د شریعت په چوکاټ کې وي. هغه معاملات او سوداګري نشي کولی چې له اسلامي شریعت سره اړخ نه لګوي، د بېلګې په توګه هغه معاملات نشي ترسره کولی چې سود، جهالت او قمار په کې وي، دغه راز هغه سازمانونه، ادارې، فابریکې او شرکتونه نشي تمویلولی چې ناروا کړنې او توکي تولید وي، په همدې موخه په ا سلامي بانکونو کې (شریعي مـشورتي بورډ)(sharia Advisory board) شتون لري چې د بانک کړنې څارې او په اړه يې مثبتې مشورې ورکوي.

ب: ا سلامي بانکوالي له سوداګرۍ پرته نشي رامنځته کیدی او هغه داسې چې ا سلامي بانکونه باید په معاملاتو کې دخیل وي، ځکه چې په اســلامي بانکوالۍکې مشــتریان ( رب المال) او بانک (مضارب) دی او مضارب د رب المال په شتمنۍ سوداګري کوي. د سودي بانکونو په څېر نه دي چې یوازې تر پیســو اخیســتلو او پور ورکولو پورې محدود وي چې همدا د ســودي او اســلامي بانکونو ترمنځ ستر توپیر دی.

ج: د اسلامي بانکونو له موخو څخه (ټولنیز تکافل) دی چې په همدې موخه له شتمنو څخه زکات، واجب او نفلي صدقات راټولوي او بې وزلو ته يې ورکوي، بې وزلو او اړمنو ته (حسنه پور) ورکوي او دغه راز ټولنې ته صحي او تعلیمي چوپړونه وړاندې کوي(حقاني،۱۳۹۷،ص.۱۹۳).

**د اسلامي او سودي بانکوالۍ ترمنځ توپیرونه**

د اســلامي بانکوالۍ او ســودي بانکوالۍ توپیرونه په دې کې دي چې په ســودي بانکوالۍ کې په امانتونو سود ورکول کېږي او د غربي عالمانو په نظر سود د سپما ، پانګې اچونې او پولي سیا ست وسیله ده؛ خو په اسـلامي بانکوالۍ کې په امانتونو سـود نه ورکول کېږي، بلکې یوازې د سـاتونکو دنده پر غاړه لري. د ا سلامي بانکوالۍ سرچینې ا سلامي پورونه دي، چې بانـــک ته ورکول کېږي، همدا پورونه د بانک پانګه هم تشکیلوي. په اسلامي بانکوالۍ کې دوه ډوله امانتونه ایښودل کېږي:

۱) معاملاتي امانتونه: سود پرې نه ورکول کېږي او یوازې اداري لګښتونه ور څخه اخیستل کېږي.

۲) د پانګې اچونې امانتونه: په دې ډول امانتونو سود نه ورکول کېږي، بانک او امانت ایښودونکي د هوکړه لیک له مخې په ګټه او زیان کې سره شریک وي. اســلامي بانکونه د ګټې او زیان په شریکوالي سره عامو خلکو ته پورونه ورکوي، په اســلامي بانکـــوالۍ کې بېلابېل معاملات ترسره کېږي.

**د خطر مفهوم**

د یوه کاروبـــار د نغده خالص جریان انحراف ته خطر ویل کېږي. یا په بل عبارت خطر هر هغه څه چې د مالي سازمان ، مو سسې او یا شرکت د شتمنیو حال یا راتلونکې او یا د عوایدو د لاسته راتلو توانایي تهدید کړي خطر بلل کېږي. د یوې شتمنی خطر د راتلونکو احتمالي عوایدو له تغیر څخه عبارت دی، یا په عامیانه ژبه خطـر د یوې حادثې د ظاهریدو او واقع کېدو په باره کې د نه ډاډ(عدم اطمینان) شرایط چې په راتلونکې کې منځته راځي، چې د نه ډاډ زیاتوالی د خطر د زیاتوالي سبب کېږي. یا په بل عبارت خطر یو بالقوه غیر معین او غیر مشـــخص عامل دي چې د بانکونو او نورو مالي موسسو عملیاتي پروسه له زیان سره مخ کوي. د پانګې اچونې بالقوه زیان چې د محاسبې وړ وي خطر بلل کېږي .ګالیتز، د عاید هر ډول نوســـانات د خطر په نوم یادوي.ګالیپ هر هغه حالت چې د پانګه اچوونکي د انتظار وړ نتیجه له لاســـه راتلونکې نتیجې څخه منحرفه کړي خطر بلل کېږي(عارف ،۱۳۹۵، ص. ۲۲۲).

همدارنګه په اســـلامي بانکدارۍ کې خطر اکثراً د غرر سره مترادف بلل شـــوی دی ، ولې بعضـــې بانکداران یې یو له بله متفاوت بولي. غـــرر د خطر، نه ډاډ او مخاطرې په معنې دی. د غرر کلمه په عربي کې د خطر معادل ده او د تقلب او فریب معنی ورکوي. بعضـــې لغت پو هان یې د خطر ، نیرنګ او غفلت په معنی سره هم استفاده کوي. خطر همدا شـان د غرر سره مترادف هغه حالت ته هم وایي چې یو بانکدار خپل ځـــان او یا مال د خطر په حالت کې ویني، همداشان خطر هر هغه څه ته هم اســـتفاده کېږي چې ظاهر یې د خوښـــې وړ ولې باطن یې د خوښـــې وړ نه وي. خطر همدارنګه هغه حالت ته هم اســتفاده کېږي چې آخر او عاقبت یې نامعلوم وي. خطر هغه حالت ته هم استفاده کېدای شی چې شتون او نه شتون یې مشکوک وي. د اسلامي فقې په فلسفه کې د خطر د نفی لپاره قاعده په عمل کې محکموالی او ثبات او له نزاع څخه ځان ساتل تشکیلوي، چې دغه اصـــول د خطري معاملاتو د نه تر سره کیدو په معنې دي. همدارنګه باید خلک معاملات په محکم او بې له اشـــتباه تر سره کړي او په قراردادونو کې له بې تفاوتۍ او په کارونو کې له ســـستۍ څخه ځان وساتي (صادقي او محسنی، ،۱۳۹۵، ص. ۲۵).

په معین فرهنګ کې خطر هر هغه څه چې د هلاکت لامل کیږی او یا د تلف کیدو په معنې سره راغلی دی. د هخدا فرهنګ کې خطر د اخطار په معنی سره راغلی دی. د وبســـتر فرهنګ خطر، د زیان او ریسک په حالت کې واقع کېدل د خطر په نوم یادوي. د آکسفورد په دیکشنري کې، خطر په راتلونکې کې د زیان لرونکې نتیجې د واقع کیدو د امکان په معنی سره اســـتفاده شـــوی دی. د

چینایانو له نظره خطر له هغه حالت څخه عبارت دي چې بانک او مالي نهاد د زیان او فرصت له ترکیبي شرایطو سره مخ کوي، یا خطر د عاید او پانګې هر ډول زیان او له لاسه ورکول دي .

خطر یعنې د زیان د متحمل کیدو احتمال ته خطر ویل کیږي، چې دغه تعریف د خطر دوه اصلي اړخونه بیانوي:

د زیان مقدار او اندازه باید ممکنه وي.

او د هغې زیان په برخه کې د نه ډاډ امکان شتون ولري.

د خطر ټول شکلونه د لاندې څلورو مشترکو عناصرو درلودونکي دي:

**محتوا:** محتوا یعنې هر هغه زمینه، وضعیت او محیط چې په هغې کې خطر منظور شوي وي او د وضعیت پورې د اړوندو فعالیتونو او شرایطو مشخص کوونکي دي. یا محتوا د ټولو سنجول شویو نتیجو آماده کوونکې ده . د یوې منا سبې محتوا له تعین پرته، د خطر او مدیریتي فعالیتونو په تجزیه او تحلیل کې په قطعي ډول دهېڅ فعالیت، شرایطو او نتیجې تعینول په نظر کې نه شي نیول کیدای. په دې اساس محتوا د خطر د مدیریت د راتلونکو ټولو فعالیتونو لپاره د تهداب حیثیت لري. د یوې مناسبې محتوا له تعین وروسته، د خطر پاتې عناصر په مناسب ډول بررسي کیدای شي.

**فعالیت:** د فعالیت عنصر یعنې هر هغه فعالیت یا عمل چې د هغې په نتیجه کې خطر منځته راځي. فعالیت د خطر فعال عنصر دی او باید د زیان د ظاهریدو لپاره د څو خاصو شرطونو سره ترکیب او یو ځای شي. د خطر ټول ډولونه په یوه فعالیت سره منځته راځي، د فعالیت پرته د خطر شتون محال دی.

**شرایط:** د خطر د منفعلو تشکیلوونکو عناصرو څخه دي، شرایط د جاري وضعیت او یا د حالاتو او وضعیتونو تعینوونکې دي، چې د خطر د منځته راتګ لامل ګرځي.

**نتیجه (پیآمد):** کله چې شرایط د یوه خاص شروع کوونکي فعالیت سره یو ځای شي، د نتیجو یوه ټولګه منځته راوړي. نتیجه د خطر د آخرین عنصر په حیث، د یوه شرط یا خاصو شرایطو په ترکیب کې د یوه فعالیت نتیجه یا بالقوه اغیز بیانوي (محرابی ،۱۳۹۱، ص. ۳۱).

د خطر او غرر په باره کې دوې معروفې فقهي قاعدې د "من له الغنم فعلیه الغرم" او "الخراج بالضمان" څخه عبارت دي، چې د اسلامي مالي او بانکدارۍ په برخه کې د خطر په توضیح ورڅخه ګټه اخیستل کیږي(صادقي او محسنی ،۱۳۹۵، ص. ۴۵).

د اولې قاعدې موخه داده، یعنې زیان او غرامت په هغه چا پورې اړه لري چې عاید لاسته راوړي، چې د دغه قاعدې دلیل د نبی علیه السلام حدیث دی چې په لاندې ډول سره یې مفهوم بیان شوی دی: یعنې په ګرو ایښودل شوي شي رابطه له خاوند سره نه قطع کیږي، هر ډول ګټه او زیان

چې ولري ،په خاوند پورې یې تړاو لري. همدارنګه په بل ځای کې وایي چې ، هغه مال چې ګرو دی ،که هر ډول غنیمت او خساره ولري ، په خاوند پورې یې اړه لري، چې په غنیمت کې یې د تعداد زیاتوالی، رشد او وده او د قیمت زیاتوالي او نور شاملیږي. او له دوهمې قاعدې څخه مطلب دادي، هر څوک چې له څه شي څخه فایده لاسته راوړي باید د خسارې او تاوان جبران هم باید په غاړه واخلي، یعنې هر څوک چې د یوې موضوع څخه ګټه اخلي، باید له هغې څخه منځته راغلي خطر هم باید په غاړه واخلي(صادقي او محسنی ،۱۳۹۵، ص. ۴۵).

**اعتباري خطر**

اعتباري خطر د قرض اخیستونکي له طرفه د قرضې د اصل او فرعې د نه ورکړې یعنی عدم پرداخت له امله رامنځته شوي خطر ته اعتباري خطر وایی. اعتباري خطر مختلف ډولونه لري چې مهم یې په لاندې ډول ذکر کولای شو:

د نکول خطر، د تمرکز خطر ،د جایګزینی خطر، د پراګندګی خطر، د مخکینۍ تصفیې خطر او د تصفیې خطر (عارف ،۱۳۹۵، ص. ۲۲۲).

یا اعتباري خطر د قرارداد د طرفینو له خوا د هر ډول تأخیر، تعویق او د ورکړې د نکول څخه عبارت دی (آکیزیدیس او کومار خاندلوال ،۱۳۹۴، ص. ۸۰).

اعتباري خطر هغه وخت را منځته کیږي چې، یو مالي نهاد او بانک د قرارداد د توافق شویو پیسو د لاسته راتلو انتظار ولري، په داسې حال کې چې متعهد یا د قرارداد بل طرف د خپلو تعهداتو د پوره کولو توانایي و نه لري یا په بل عبارت د ورکړې توانایي یا علاقه و نه لري (آکیزیدیس او کومار خاندلوال، ص ۱۶۵).

اعتباري خطر د کیفي ماهیت لرونکی دی او په مالي صنعت کې د مهمو او اساسي خطرونو له ډلې څخه بلل کیږي او اعتباري خطر د مالي سازمان او نهاد د دیوالي کېدو او ورشکستګی مهم او اساسي لامل بلل کیږي.

اعتباري خطر د هغې د واقع کېدو څخه د مخه په دقیق ډول نه شو محاسبه کولای، ځکه د نکول احتمال غیر معین وي او د هغې وړاندوینه مشکله او ستونزمنه موضوع ده. اکثره پیښې او حوادث مالي نهاد او بانکي سیستم د اعتباري خطرونو سره مخ کوي، د مثال په ډول شخصي مسایل لکه د یوه متعهد شخص فردی صحت تر عمومي اقتصادي وضعیت پورې لکه د بازارونو رکود کېدای شي د مالي مشکلاتو او په ټوله کې د بانکي سیستم د مالي تعهداتو د تصفیې او دوباره ورکړې د ځنډ لامل شي. په مختلفو بازارونو کې د اعتباري خطر د مدیریت د پیچلتیا عوامل له، د مالي

بازارونو نړیوال کېدل، د قوانینو او مقرراتو بدلون او بعضــې وختونه د هغې له منځه تلل او معطل کېدل، د رقابتي فضا پراختیا، د هېواد اقتصادي شرایط او د خلکو فرهنګي ځانګړتیاوو څخه عبارت دي.

د اعتباري خطرونو د ارزش ګذارۍ اصلي پارامترونه منتظره او غیر منتظره زیانونه دي، چې د منتظره او غیر منتظره زیانونو د محاسبې لپاره د PD او LGD او EAD سنجش ته اړتیا پیښېږي.

د اعتباري خطر موډل جوړونه کاملا د نکول احتمال د تخمین او د نکول څخه د رامنځته شــوي خطر په اساس صورت نیولای شي. په ټوله کې نکول هغه وخت واقع کیږي چې د قرارداد طرفین د خپلو تعهداتو په عملي کولو کې ناتوانه شي. د نکول وخت د بزل ۲ له مخې تر ۹۰ ورځو پورې د تعهداتو ځنډېدل او نه اداء کېدل دي (صادقی او محسنی ،۱۳۹۵، ص. ۱۲۲).

**د خطر د مدیریت مفهوم**

د خطراتو د مدیریت مرکزي هسته د بانک مفاد تشکیلوي، مګر د بانک تمرکز د وخت په تېریدو سره تغیرکوي، مثلاًپه ۱۶۰ ز کال کې د قرضــونو د مدیریت په منظور د پیســو په مثمره اســتفاده، په ۱۹۷۰ ز کال کې په اکثره غربي هېوادونو کې د انفلاسیون په ایجاد او د ربح د نرخ په تغیر او د ربح نرخ او نقدینګۍ په خطر تمرکز، چې دغه مدیریت د مختلفو دیپارتمنتونو په وسیله تر سره کېدلو. د شــتمنیو او قرضــونو مدیریت(ALM) د بیلانس شــیټ د دواړو طرفونو یو قبلي مدیریت ؤ، چې په ځانګړي ډول د ربح نرخ او نقدینګۍ په خطرونو باندې تمرکز کولو. په ۱۹۸۰ کال کې د خطر مدیریت د بیلانس شیټ څخه بیرون فعالیتونو مدیریت او له ساحې څخه رامنځته شویو خطرونو په شــکل رامنځته شــو ،یعنې علاوه له بیلانس شــیټ څخه د بیروني فعالیتونو او ســاحو خطرات هم د خطرونو په مدیریت کې شامل شول. په اوس وخت کې مدیران نه تنها د سهم لرونکو بلکه د ملي او نړیوالو قانون جوړونکو په وړاندې هم جواب ویونکي دي(حبیبی ،۱۳۹۶، ص. ۳۹).

د خطر مدیریت په حقیقت کې د بانک د بیلانس شــیټ مدیریت ته ویل کېږي، او یو جامع سیستماتیک پروسیجر چې مشخصې ستراتیژي د مختلفو خطرونو د پېژندنې، طبقه بندي او کنټرول لپاره د خطر د واقع کیدو په جریان کې معرفي کوي(Basel Committee,۲۰۰۶).

د خطر مدیریت د بانکونو لپاره یو مهم رقابتي عامل دی ؛ځکه بانکونه د خلکو د پیسو سره سروکار لري، امانات جمع کوي، خلکو ته قرضــه ورکوي، د مختلفو خطراتو سره مخ دي او که د خلکو پیسې او امانات په ښه ډول مدیریت نه کړي نو دا مو ضوع په بانک باندې د اعتماد د کمېدو لامل کېږي.

د خطر مدیریت د مالي مدیرانو هغه کړنه او عمل چې د بانک لپاره د مطرح شــویو خطرونو په پېژندنه، اندازه ګیرۍ ،تصــمیم نیونه او نظارت باندې اقدام کوي. یا د خطر مدیریت هغه پروســه ده،

چې موخه یې د یوه آګاهانه اقدام له طریقه د یوې حادثې څخه د پیشبیني شـویو منځته راتلونکو ممکنه زیانونو کموالی تشکیلوي. د خطر مدیریت څخه د ا ستفادې ا صلي دلیل د پانګه اچوونکو لپاره د خطر حداقل او د ګټې حداکثر حالت ته رسـول تشـکیلوي. یا په بل عبارت د خطر د مدیریت اصـلي هدف، د پانګه اچونو څخه د رامنځته کیدونکي زیان کمیدل (منفي خطر) او د ګټې زیاتیدل (مثبت خطر) دی، تر څو مدیرانو ته د ډاډ وړ وضعیت په منځته راتلو سره، د شفافو او مؤثرو تصمیم نیونو امکان فراهم کړی. د خطراتو د بنایسته او کارآمد مدیریت پرو سه کې لومړی هغه خطرونه چې امکان د واقع کیدو او زیان یې زیات وي او وروســې هغه خطرونه چې امکان د واقع کیدو او زیان یې کم وي، پیژندل او کنټرولیږي، چې دغه موضـوع خورا مشـکله ده، ځکه په دې طریقه د خطرونو کنټرول لپاره توازن د واقع کیدو او زیان برقرارول ستونزمن کار دی.

په یوه سازمان کې د خطر د مؤثر مدیریت میکانېزم د لاندینیو ګټو څخه خالي نه دی:

- ✓ استفاده کوونکو ته د ډاډ ورکول
- ✓ له منابعو څخه موثره ګټه اخیستنه
- ✓ په تیزۍ او سرعت سره د فرصتونو ارزونه او له هغې څخه په موقع ګټه اخیستنه
- ✓ د شرکت د عملیو د بهبود او پراختیا له لارې د زیان کمېدل
- ✓ د کلیدي او ستراتیژیکو تصمیم نیونو په منظور د مناسبې مبناء فراهم کېدل
- ✓ د تغیر او تبدیل په برخه کې د نوښتونو زیاتوالی
- ✓ سازماني اهدافو ته د لاسرسی زیاتوالی.

د خطر مدیریت د پروسو د تدوین په میکانیزم کې اساسي او مهم موضوعات چې باید په نظر کې ونیول شي په لاندې ډول ورته اشاره کوو:

- ✓ ارزښت ایجاد کړي
- ✓ د سازماني پروسو نه بېلېدونکی جز وي
- ✓ د تصمیم نیونې یوه برخه وي
- ✓ په واضح ډول عدم اطمینان(نه ډاډ) ته ډیره توجو وکړي
- ✓ نظام مند او سیستماتیک وي
- ✓ د بهترینو موجوده اطلاعاتو په بنسټ ولاړ وي
- ✓ د سازمان د اړتیاؤ او غوښتنو په بنسټ ولاړ وي
- ✓ انساني عوامل په نظر کې ونیسي
- ✓ شفاف او ټول شموله (فراګیر)وي
- ✓ تغیراتو ته ځواب ویونکی او تکرارېدونکی وي.

**د خطر د مدیریت اهداف**

د خطر مدیریت اړوند د پوهې او معلوماتو څخه ډاډ او اطمینان، د بهبود، توسـعې او د پروسـو د مؤثریت له زیات والي سره کمک کوي او همدارنګه د رقابتي مزیت ایجاد او د سـهم لرونکو د اړتیاؤ پوره کېدل د خطر مدیریت له اهدافو څخه بلل کېږي. دغه موضـوع شرکت ته دا توانایي ورکوي چې په بهتره ډول د ورځنیو فعالیتونو متداول خطرونه مدیریت او له تصادفي زیانونو څخه په آرامه خیال او فکر، په جامع او مؤثر ډول ورځنیو کړنو ته ادامه ورکړي. د خطر مدیریت د بانک او مالي نهاد سره کمک کوي چې په کمو مصارفو د قبول وړ نتایجو ته لاسرسیی پیدا کړي؛ په دې اساس لازمه ده چې خطر تشخیص او د هغې د مدیریت لپاره هوښیارانه تصمیمونه ونیسي.
لاندې شکل د خطر مدیریت اهداف په دوو، داخلي او خارجي برخو کې ښیي:
په حقیقت کې داسـې ویلای شـو چې د خطر مدیریت اسـاسي هدف، د خطر تحلیل او ارزونه، پېژندنه ،کنټرول او په آخر کې د خطر مو ډل جوړونه تشـکیلوي چې له دې لارې د موجوده وضـعې او راتلونکو اټکلونو په برخه کې د ډاډ د زیات والي سـبب کیدای شي. او یا د خطر د مدیریت هدف د شرکت د ا رزښـت زیاتیدل او یا د شرکت د موخو تحقق بلل کېږي. په دې ډول چې د خطر مدیریت د اهدافو له طریقه کولای شو د شرکت اهداف تعین او وپیژنو .په لنډ ډول د خطر مدیریت اهداف په لاندې ډول هم تشریح کولای شو:

- ✓ بقا او پایښـت، د شرکت د خطر په حالت کې واقع شـتمنیو کنټرول او نظارت، نامسـاعدې او نامطلوبې پایلې کمـوي او د اوږد مهاله تعهداتو د پوره کولو لپاره د شرکت ظرفیت او توانایي ثابته ساتي.
- ✓ صرفه جویي، د نورو اهـدافو لکـه د شرکـت د فعـالیـت د دوام سره همغږي، چې د ګټـه اخیستونکو د ګټو د ساتلو په منظور استفاده کېږي.
- ✓ د نامسـاعدو نتایجو په وړاندې اطمینان ورکونه، په دې معنی چې د نامسـاعدو پایلو او حادثو د واقع کېدو په صورت کې د سهم لرونکو او ګټه اخیستونکو منافع په نظر کې نیول کېږي او د هغې ګټې زیاتېږي.
- ✓ د عاید ثبات، د خطر د پوښـښ د ښـو او عالي طریقو نه په اسـتفادې د عاید باثباته جریان ایجاد او دغه ډاډ فراهم کړي چې د تغیراتو له ډار پرته په اصلي فعالیت تمرکز وکړي.
- ✓ د عملیاتو او کړنو څخه نه دریدل، د محصـولاتو په قیمتونو کې د ثبات منځته راتګ، چې له دې طریقه د شرکت د عملیاتو د توقف څخه مخنیوی کېږي.

- ✓ دوام لرونکې وده، د غیر منتظره زیانونو له امله په اقتصـادي وده او پراختیا باندې د منفي اغېز له منځه تګ.
- ✓ ټولنیز مسـئولیت، یعني د شرکت د فعالیتونو او ټولنیزې حوزې د تعامل په نتیجه کې د نظارت او شواهدو وړاندې کولو مصارف حد اقل ته رسول دي.

همدارنګه په یوه سازمان کې د خطر د مدیریت بل مهم او اساسي هدف، د ښې کړنې او عملکرد وړاندې کول او د پانګې څخه ښـه او مؤثره ګټه اخېسـتنه او د سـهم لرونکو د شـتمنیو د ارزښـت حداکثر ته رسـول دي چې د مناسـبو تدابیرو نه په موقع ګټه اخیسـتلو په پایله کې، د اسـلامي بانکدارۍ مهم خطـــرونه لکه اعتباري، بازاري او عملیاتي تر پو ښښ لاندې راولي. له دې امله د خطر مدیریت هدف تنها د بانکي فعالیتونو څخه د خطر حذف نه، بلکه د خطر او ګټې تر منځ د مناسب تعادل ایجاد تشکیلوي (محرابی، ۱۳۹۱، ص. ۷۱).

**پایله اخېستنه**

اسـلامي مالي نهادونو په څو اخیرو لسـیزو کې ظهور او وده کړې ده، هغوی په لومړیو کې په غیر رسـمي ډول په نړیوال اقتصـاد کې حضـور لرلو، ولې د اسـلامي بانکدارۍ په پراختیا سره سـاختار موندونکي اسـلامي مالي صـنعت په فعالیت شروع وکړه. د دغه ډول نظام د منځته راتګ دلایل، د سودي مالي تأمین څخه د مسلمانانو خلاصون، د شریعت په اساس ولاړ د مالي تأمین د ساختمان ایجاد هڅې، سیاسي او قانوني تغیرات، د نړیوالو اقتصادي نهادونو اقتصادي تغیرات او د مسلمانانو د شـتو (ثروت)زیاتوالی بلل کېږي. د اسـلامي مالي خدماتو صـنعت د ټولنیزو موخو په لرلو سره د ودې او پراختیا په حال کې دی او د اسـلامي مالي خدماتو د هیئت(IFSB) په وسـیله د خطراتو د مدیریت د نړیوال چارچوب ایجاد یوه مهمه او اسـاسي موضـوع ده او همدرانګه د بزل کمیټې په وسـیله د بانکي نظارت لپاره درې اصـله یعنې د پانګې کفایت، بانکي نظارت او د بازار نظم د نوي چارچوب په ډول معرفي شوی دي یعنې په لږ تعدیل سره (CAMELS) او (BCBS) د اسلامي بانکونو د بانکي نظارت لپاره هم استفاده کیدای شي.

د Basel لومړنی قانون چې د بزل ۱ په نوم هم یادېږي د بزل کمیټې لخوا په ۱۹۸۸ م کال کې د بانکونو په اختیار کې ورکړل شـو چې دې قانون فقط درې ډوله خطرات یعنې اعتباري خطر، د مارکیټ خطر او د اداري او مدیریت خطرات شامل وو.

او بالاخره د بانکونو دسـقوط په نتیجه کې د ۲۰۰۰ کال څخه بزل کمیټې دویم قانون چې د بزل ۲ په نوم یادیږي منځته راوړ چې پـدې قانون کې یې عملیاتي خطر هم ځای په ځای کړي ؤ، د بزل ۲

هدف په بانکې امورو کې د بین المللي ستندرډونو منځته راوړل ؤ ترڅو متشبثین په بانکي امورو پوه شي چې څومره مقدار بانکي سرمایه د مالي او عملیاتي خطرونو د کنټرول په منظور بیله او ځانګړې شي. د بزل کمیټه پهدې متعقده ده چې دا دې په عملي کولو سره به د مشکلاتو په کمولو کې په مالي سیستم کې ډېرګټور وي.

په ا سلامي بانکدارۍ کې اعتباري خطر د مضاربت او مشارکت په قراردادونو کې د پانګه اچونو د ماتې، د مرابحې په قرارداد کې د قرض ورکولو، د سلم او استصناع په قراردادونو کې د تحویلي د تعهد او د اجارې په قرارداد کې د اجارې له امله منځته راځي . همدا شان اعتباري خطر د پیرونکي لخوا د ثابتو مبالغو په ورکړه کې د نکول له امله منځته راځي ، چې بانک د نقدینګی د خطر سره مخ کوي، او د قرارداد د مقابل طرف لخوا د دیونو په تصفیه کې د ناتوانۍ له امله هم منځته راتلی شي . چې د هغې د پوښښ په منظور وثیقې او ضمانت نامې استفاده کیږي. ډېرى وختونه اعتباري، بازاري او عملیاتي خطرونه په مستقیم ډول د نقدینګۍ خطر باندې اغېزمن واقع کیدای شي. په نړیوالو مالي تبادلاتو او معاملاتو کې سیاسي او د هېواد خطر هم په اعتباري خطر کې شاملېږي.

په لنډ ډول ویلای شو چې د کافي اطلاعاتو د شتون پرته په وخت او درست شکل د خطر پېژندنه، اندازه ګیري، مدیریت، نظارت او کمول مشکل او ستونزمن کار دی. د اعتباري، بازاري او عملیاتي خطرونو محاسبه او د نغدي جریانونو ارزیابي تر زیاته حده اطلاعاتو او مناسب اطلاعاتي سیستم ته لاسرسي پورې تړلي دي. د اطلاعاتو ټولول او تجزیه او تحلیل د خطر مدیریت په ټولو پړاوونو کې مهم او اساسي رول لوبولای شي. اطلاعات د ټولو مالي نهادونو او بانکونو په فعالیتونو کې ایجادیږي او باید له اوله ټول شي، تر څو یې د صحت او ډاډ څخه مطمئن شو. په مالي نهاد او بانک کې اعتباري خطر د پروسو، اشخاصو او سیستمونو په کارکرد پورې اړوندو اطلاعاتو په ټولونه او جمع آورۍ پورې تړلي دي. بعضې خطرونه د نورو خطرونو د ایجاد لامل کیږي، او کله نا کله بعضې خطرونه یو له بله سره ترکیب کیږي، او یو نوی ترکیبي خطر منځته راوړي. د مثال په ډول په پانګه اچونه کې خطر کیدای شي اعتباري او همدارنګه بازاري خطر واوسي، همدارنګه د بازاري خطر اړوند ناتواني د اعتباري خطر د منځته راتلو لامل کیږي. په همدې خاطر د اعتباري او بازاري خطرونو روشونه یو ځای په نظر کې نیول کیږي.

**وړاندیزونه**

1. دا چې ا سلامي بانکدا ري په افغانستان کې یوه نوې پدیده ده، نو د مسلکي او فني کادرونو نه شتون یوه مهمه او اساسي ستونزه ده، باید د نوموړې ستونزې د حل په منظور علمي پروګرومونه دایر او اشخاص په مسلکي ډول وروزل شي.
2. د مرکزي بانک مسؤلین باید د اسلامي بانکدارۍ په برخه کې جدا قوانین ترتیب او همدارنګه یې ټول مقررات، لوایح او طرزالعملونه په ملي ژبو وژباړي او انترنیټي سایټ ته یې داخل

کړي، تر څو خلک د اسلامي بانکداري د کاري کړنو او ډول په باره کې مناسب معلومات لاسته راوړي.

3. مرکزي بانک باید د اسلامي بانکداري د تدریس په منظور یو تحصیلي انستیټوټ د لوړو زده کړو وزارت سره په همغږۍ ایجاد او همدارنګه په دې منظور لنډمهاله کورسونه دایر کړي.
4. په بانکونو کې د خطراتو د مدیریت په برخه کې مستقل او ناپیلې مدیریتونه ایجاد شي.
5. د بانکونو او مالي موسساتو تشویق او ترغیب او د اسلامي بانکدارۍ د ترویج په منظور زمینه برابرول.
6. په پای کې عام خلک باید په خپلو معاملاتو کې چې په اسلامي بانکونو کې یې تر سره کوي، لـــه پوره اخلاص، صداقت او دیانت څخه کار واخلي، تر څو ا سلامي بانکونه د خطراتو په برخه کې له شته ستونزو سره په ښه ډول مبارزه وکولای شي.

**اخځلیکونه**

آکیزیدیس، یونیس او کومار خاندلوال ، سـونیل. (۱۳۹۴). مدیریت ریسـک مالی در بانکداری و مالی اسلامی. ژباړن: مهدی

حبیبی، شفیق . (۱۳۹٦). مدیریت خطرات مالی( اول چاپ). کابل :انتشارات تمدن شرق.

حقاني، مفتي عبدالحق. (۱۳۹۷). اسلامي اقتصاد اوبانکوالي. اول چاپ. کابل: افغان پوهنتون.

صادقی شاهدانی ، مهدی او محسنی،حسین. (۱۳۹۵). مدیریت ریسکرد در رویکرد چاپ). ژباړن: علی سعیدی او مصطفی زه تابیان . تهران :انتشارات دانشگاه امام صادق.

عارف، عبدالقیوم. (۱۳۹۵). مدیریت در سیستم بانکی (ا ول چاپ) . کابل :انتشارات یوسف زاد.

محرابی، لیلا. (۱۳۹۱). مدیریت ریسک در نظام بانکداری بدون ربا با تاکید بر ریسک اعتباری. مجله تازه های اقتصادي، شماره ۱۳۰ .

# Credit Risk Management in Islamic Banking

Teaching Assistant،Tooryalai Sangeen, Shaikh Zayed university, faculty economic, deportment business administration
**Email**: tooryalaisangeen2019@gmail.com

## Abstract

Islamic banking is the provision of financial services within the framework of Islamic law and principles. Recent researches and experiences of Islamic countries show that Islamic banks have witnessed great achievements in the economic development of countries.

Compared to traditional banking, Islamic banking has special features in attracting and consuming financial resources. In this type of banking, the important principle is to share the profit and loss account, as well as avoiding interest transactions. This issue has exposed Islamic banks to various risks, the size and types of which are many times more than conventional banking. This issue has caused an increase in risk management in Islamic banking.

In this study, a final attempt has been made to introduce credit risk of Islamic banking. Introduction of Islamic banking, introduction of risk, risk management, objectives of risk management, risk strategy as well as Islamic financial contracts related to Islamic banking are explained.

**Key words**: Islamic banking, Credit risk, Risk strategy, Risk management, Risk management goals.